مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

بريالی ویاړ ۲۰۱۸/۰۹/۲۱

# د یوه ملګري کیسه

یوه ملګري کیسه راته کړې چې د ننګرهار په پوهنتون کې مې اسلامي شریعات لوستل. له هماغه ځایه مې له طالبانو او جهادي ډلو سره علاقه وه. خوښېده مې چې دا جهادي ډلې هر چېرته چې وي برى ترلاسه کړي، او په اصطلاح له یرغلګرو سره وجنګېږي. دا سرى د هلمند ولایت اوسېدونکى و. کیسه یې په دې ډول ده:

"ننګرهار کې مې د شریعاتو پوهنځی لوست. هلته مو پوهنتون کې د اسلام د طرف دارانو قوي قوي ډلې درلودې. چېرته به چې امریکایي اشغالګرو بمباري کړې وه، موږ به ته دنده راکول کېده چې پر ضد یې اعتراضیه مظاهره وکړو. زموږ هرې ډلې ځانته مشر درلود. مشر د غونډو او مظاهرو په اړه تصامیم نیول پرېکړې یې کولې. همدارنګه موږ داسې کسان هم په نښه کول چې له جهادي ډلو سره یې مخالفت درلود.
دا زموږ تګلاره وه چې چا له جهادي ډلو سره مخالفت کاوه، هغه مو د اسلام مخالف ګاڼه. د دا ډول کسانو په اړه مو بحثونه کول. غوښتل مو هغه اصلاح ته راوبولو. که څوک نه اصلاح کېدلی د خپلو کمېټو مشرانو ته مو راپور ورکاوه، بیا هغوئ پوهېدل او کار یې. کمېټې د پوهنتون له محصلینو جوړې وې. موږ له مختلفو پوهنځیو ډلګۍ جوړې کړې وې. زموږ اساسي هدف د اشغالګرو پر ضد مبارزه او د مجاهدینو د تقویې لپاره کار کول وه.
ما پوهنتون کې د هلمند یو محصل اوسېدونکی انډیوال کړ. د هلمند د مجاهدې په اړه به یې ډېرې کیسې راته کولې. خورا ښه بحثونه به مو کول. د افغان پوځیانو د سقوط شویو قرارہ ګاوو او د دوئ د پوځي تجهیزاتو د ورانی بحثونو ډېر خوند کاوه. ده د هلمند د فتحو ډېرې خوږې او ترخې راسره شریکولې. د باغران له سقوطه، تر نوزاد، موسی کلا خانشین، دیشو، ناوې او نورو هغو ولسوالیو پورې چې له ودانیو پرته نورې ټولې برخې به یې مجاهدینو نیولې وې.
لنډه یې دا چې ما همېشه دې خبرې ته پام کړی و چې مجاهدین ولې د بیارغاونې او آبادۍ په اړه کوم پرمختګ نلري. دا اندېښنه به مې له خپلو همفکرو ملګرو سره شریکه کوله. ملګرو داډ را کاوه چې طالبان اوس په جګړه اخته دي، په داسې حال چې د وطن دفاع او سپېڅلی جهاد ور له غاړې دی، نه شي کولی چې په وطن کې ابادي او پرمختګ رامنځته کړي. د دې لپاره دا دلیل هم وړاندې کېده چې مجاهدین هیڅ داسې سیمه کې په بشپړه توګه حاکمیت نلري چې هلته دوئ له جګړې ډاډه وي، او دآبادۍ په چارو لاس پورې کړي.
ماته دې خبرې قناعت راکاوه چې په رښتیا هم طالبان په جګړه اخته دي، او نه شي کولی جګړه او پرمختګ پر یوه مهال مخته یوسي. مګر ها خوا به مې چې کتل، افغان عسکرو هم جګړه کوله، اوهم یې پلونه، سړکونه او پلچکونه بیرته رغول هغه چې مجاهدینو به په جهادي بریدونو کې وران کړي وو. په هر صورت دا خبرو کله کله له اندېښنو سره مخامخولم. داسې اندېښنې چې باید یو حلچاره مې ورته موندلې وای.
وخت تېر شو. پوهنتون خلاص شو. ننګرهار کې مې د یوې مدرسې استادي ونیوله. د دې تر څنګ مې یوې بلې تعلیمي اداري کې د پوهنتون د استاد په توګه دیني مضامین تدریسول. څه باندې دوه کلونه تېر شول. په همدې جریان کې به مې کله – کله په عملي ډول جهاد ته تلم. خو ورځې به مې په سنګر کې تېرولې. زما ډېره کرکه له بهرنیانو کېده، مګر هلته به چې ما هر څومره هڅه وکړه بهرنیان به مې نه لیدل.
همدا افغان عسکر وو چې موږ ماینونه ورته ښخول، پر پوستو مو یې بریدونه کول. یوه ورځ په یوه ګوښه ساحه کې د ملي اردو یو سرتېرى د بام پر سر پر لمانځه ولاړ و. شاوخوا ته یې په پرتو ساحو کې زموږ کمربندونه وو. زموږ یوه ملګري ناري کړې چې هلئ توربین داره ټوپک راوړئ، ښکار په ګوتو راغلی. موږ ملګرى په خزه کې ورته پر ګونډو شو، د ملي اردو پر عسکر یې ډز وکړ، سمدلاسه یې ونړاوه.
چې واقیعت ووایم، د دې عسکر وژنې زړه کې داسې کرکه را پیداکړه. هغه داسې چې دی هم لمونځ کوي، موږ یې هم کوو. دی هممهاله پر لمانځه ولاړ و موږ وویشت، د دې کوم عذاب خو به موږ ته نه رسیږي. دې کار کرار کرار اندېښمن کولم. بلاخره د جهاد نېټه مې پورته شوه بیرته خپلې دندې ته ستون شوم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

څه موده تېره شوه د هلمند ملګري مې زنګ ووهه چې دېخوا په چکر راشه. ما هم خبره تائيد کړه. خپل کارونه مې تمام کړل. بلاخره د يوې اونۍ په جريان کې مې هلمند ته د سفر موزې په پښو کړې. په هلمند کې مې د خپل ملګري کور پيداکړ. هغه هم دلته د يوې مدرسې استاد و. څو ورځې مې ورسره تېرې کړې. په لښکرګاه کې يې وګرځولم. د هلمند په اړه يې ډېر مالومات راکړل. بيا يې مارجې، ناوې، نادعلي ګرمسېر او څو نورو ولسواليو ته په سفر بوتلم. هلته يې پر مجاهدينو وګرځولم.
دلته هم دغسې حالت و. کله به چې د افغان عسکرو د حاکميت په سيمه کې تېرېدو، کورونه، ابادي، شين ګياه او سوکالي تر سترګو کېده، مګر له بده مرغه چې د مجاهدينو ساحې ته به ور شېوه شوو، کورونه به کنډوالي وو. هتې به سوځېدلي وې. د انسانانو ګڼه ګونه کمه وه. پر چاپېريال به داسې انځور غوړېدلی و تا به ويل چې يوه توره سېلۍ راغلې او هر څه يې له ځان سره وړي. دا ډول شيان له وخته زما په ذهن کې ګرځېده. په فکر کې يې ډوبېدم. خو بيا به مې له ځان سره دا سوچ وکړ چې طالبان په جګړه اخته، د جګړې په جريان کې د آبادۍ په اړه زما دغه ډول توقع ياني چې پر ځای نه ده.
زما دې ملګري، په ننګرهار کې هم د طالبانو او د هلمند د ولسواليو په اړه مالومات راسره شريک کړي وو. بيا يې دلته هم ډېر نور مالومات راکړل. په دې کې تر ټولو اوله يې د هلمند باغران ولسوالي رايادوله چې د اول ځل لپاره مجاهدينو فتحه کړې او تر ۱۶ ډېر کلونه کېږي چې هلته پرې حاکميت لري. زما ډېره تلوسه شوه چې هلته به ولاړ شو. ملګري مې ويلي وو چې هلته هيڅ جګړه، نا امني او ناخوالي نشته. زه ډېر خوشال شوم چې ګوندې هلته مجاهدينو ډېر پرمختګ او ابادي رامنځته کړي وي.
بلاخره مو د نورو ولسواليو له سفر وروسته باغران ته هم د سفر نيت وتاړه. له لښکرګاه څخه ګرشک ته له هغه ځايه مخ پر باغران روان شوو. پر لاره خورا ډېرې شاړې مځکې، دښتونه، غرونه او بيابانونه وو. خو په ځينو ساحو کې به خړ خړ کورونه اباد وو. زما پوښتنه وه چې دلته پر دې بيابان دوئ اوبه له کومه کوي، ملګري مې ويل دلته يې برمې وهلي، اوبه د لمريزو هندارو په مرسته راپورته کوي.
يوې باري او شېلې ته راورسېدو. ملګري ويل: نور نو باغران ته ورداخل شوو. موږ په دوو ورځو کې باغران ته ورسېدو. باغران ته د ورننوتو په دروازه کې که څه هم دروازه نه وه، همداسې يو د تلاښۍ ځای و څو مجاهدين ولاړ وو. پوښتنه يې وکړه چې چېرته ځئ څوک ياست؟ زما ملګري خبرې ورسره وکړې، د يو چا نوم يې ور واخيست چې موږ د هغه ملګري يوو دا ملګری له ننګرهاره راغلی د باغران ولسوالۍ د ليدلو علاقه لري.
زما څخه يې انديښنه درلوده. پوښتنې يې ډېرې وکړې. په غالب ګومان پر ما يې د داعشيانو د ملګري شک کاوه. بلاخره چې ځانونه يې باوري کړل، زموږ موټر ته يې د تګ اجازه ورکړه. موږ داخل ولاړو. د غرو په لمونو کې يوه دره وه. پر دې يې د باغران نوم ايښی و، او دا د هلمند هغه ولسوالي وه چې طالبان له څه باندې ۱۶ کلونو راهيسې حاکميت لري. ما سترګې رغړولې چې وګورم مجاهدينو څه ابادي، او څه پرمختګ راوستلی، چېرته يې کوم سړک جوړ کړی.
مګر ما داسې هيڅ د آبادۍ شی ونه ليد چې ما يې فکر کړی و. موږ يو داسې سماوار ته يا د ځښلو ځای ته ولاړو چې ما فکر وکړ د خلوېښتو کالو مخکې افغانستان دی. دا يې هوټل او مسافرځی و. يو عجب غريب خلک يې وو. زه پر دې باور وم چې د دوئ له ډلې ډېری کسانو به يې حتی د لښکرګاه ښار هم نه و ليدلی.
شپه مو همدلته وکړه. بيا زما ملګري سهار څو مجاهدين پيداکړل، خپل ځان يې ورته معرفي کړ، هغه يې هم هرکلی ووايه، بيا يې وګرځولو. زه چې د باغران په ولسوالۍ کې روان وم داسې فکر مې وکړ چې د افغانستان د ۶۰ کاله مخکې يو تور او سپين فلم ګورم، او هيڅ مې فکر نه کاوه چې دا دې ۲۱ پېړۍ وي.
ما چې هر څومره پوښتنې وکړې. دلته نه ښوونځی و. نه روغتون و. نه کومه معياري مدرسه وه. نه ټيليفون کار کاوه. نه انټرنټ و. نه پاکې اوبه وې. نه ښه بازار و. ياني دلته هر څه زما د طمعې خلاف وو. دا ځای که څه هم کنډوالي نه و کورونه يې نړېدلي نه وو، خو د آبادۍ او ښه ژوند هيڅ څرک نه پکې لګېده.
ما چې به د هغه ځای له مجاهدينو پوښتنه وکړه چې دلته ولې ښوونځی يا روغتون نشته، هغوئ به وخندل چې دلته دا د کفر د فتنې مراکز نشته. ويل: دا د مېړنيو او غيرتمندو افغانانو کور دی، دلته دا د فساد سرچينې نشته، او نه باغران ښوونځي او روغتون ته اړتيا لري. ما ويل څوک چې ناروغ شي بيا يې چېرته بيا ياست، ويل: ګرشک يا لښکرګاه ته يې وړو. که خدای(ج) يې وعده پوره کړې وه پر لاره مري او که يې نه وه پوره کړې، تر ډاکټره رسيږي.
د باغران په ليدلو ډېر خوابدی سوم. حتی داسې چې پر ځان مې نيت بد شو چې موږ ولې آبادۍ نړوو او ابادي جوړولی نه شو. بيا مې پوښتنه وکړه چې مجاهدين ولې د دې ځای سړکونه نه رغوي، مجاهدينو ويل: موږ دومره پيسې کله لرو چې سړکونه په جوړ کړو. مګر ما اورېدلي وو چې د طالبانو ځينو مشرانو په هلمند کې له ۵۰ لکه کلدارو څخه تر ۱۵۰ لکه پاکستانيو کلدارو پورې له يوې تر څلورو ښځې کړې وې، او په دغه اندازه پيسې يې په ودونو کې مصرف کړي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

بیا مې ناببره دا پوښتنه ذهن ته راولوېده چې موږ له ۵۰ هېوادونو سره جګړه پیل کړې، او دا دعوه هم لرو چې ټول مو مات کړي. ذهن کې مې دا پوښتنه تاوېده چې موږ له بشپړې نړۍ سره جګړه کولی شو، هلته پیسې لرو، مګر د یوه سړک پلچک او پل د رغېدو یا جوړېدو پیسې ولې نلرو؟ هغه خو څه کوئ باغران کې حتی صحي مدرسه هم نشته. نه له پوره زده کړو برخمن دیني عالم شته.

باغران کې زموږ سفر پای ته ورسېد. بیرته لښکرګاه ته راغلو. دوې شپې مې وکړې، بیرته مخ د کابل پر خوا روان شوم. د لویې لارې سړک چې هر ځای به مجاهدینو په ماینونو الوځولی و، ډېر یې ځورلم. د باغران لیدلو زما عواطف بدل کړل. زما اراده یې واړوله. زه یې وپولم چې موږ پر یوه نابلده لاره روان یوو. داسې لاره چې هیڅ ابادي، امن او سوکالي پکې نشته.

ننګرهار ته چې ورسېدم، نور مې خپلې دندې ته دوام ورکړ. نور مې زړه له مجاهدینو او جهاده را وګرځېد. ما چې هر څومره فکر وکړ، زما لاره سمه نه وه. زه نور وسلوال طالب نه یم، ما نوره جګړه پرېښوده، زه یو عادي هېوادوال یم، او خپل روزګار مخته بیایم. "


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ